افغانستان آزاد – آزاد افغانستان
AA-AA
چو کشور نباشد تن من مبـــــاد
بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم
از آن به که کشور به دشمن دهیم
www.afgazad.com
afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |

بسمل

۱۹ نومبر ۲۰۱۱

# دستر احمد دملک به ورکړي نورو ته اختیار

حیأ ورځخه تللي ده تخت ساتي په اغیار
موږ ولي تیتوي دا خدای وهلی فرېبکار

هغه ورځ په ځنګل کي غوړمېږده لکه زمری
په خدای مو باور وشه موږ یي ټول کړو شرمسار

حیران یم دا پخیله که دبل په خوله غږیږي
څوک نشته چي وروښیي سړي غوندې ګفتار

خوله وازه سترګي پټې په اپلتو پیل وکړي
په سور خو په وﷲ که وي علاج یي دی په کار

لمبه شمه ایره شم چي نیکونه کړم رایاد
دا وخت ټیټ دی که سر ټیټ دی زموږه دسردار

هغه ملت چي پاڼي دتاریخ ولي پري ښکلي
نن لاس او پښي تړلی په قفس کي دی حصار

ددوو ټنګو لپاره به ایمان خرڅ کړي بناغلي
دستر احمد دملک به ورکړي نورو ته اختیار

په تېر اخبر یي پښي خطا شوي خدای دي سزأ ورکړي
له چا چا ته ګیله وکړم له چا کړم ځان کنار

سرلوڅ و که سرپټ داسي په تبه سره ناست وو
باران و د ډالرو هر یو و خمار خمار

کڅوړې او جېبونه يې پنډ پنډ مالومېدل
دټولو سترګې ټيټې وې چې کوز شول له تالار

راغلی نابللي به اخېر ځي ملک به پرېږدي
بسمله تر هغو به موږه ټول کړي خوار اوزار